ډاکټر نبي مصداق

۲۰۱۶/۱۰/۲۰

# د نجات ځلی او تعصبي دریځونه

له بده مرغه افغانستان چې پر یو لړ موضوعګانو کې بد شهرت پیدا کړی، لکه قاچاق، مخدره توکي، تروریزم، جنګ، اختطاف او مافیاوي حرکتونه؛ په یو بل شي کې هم، کم شمېر هېوادونه ورسره جوړه کولای شو، چې هغه کلنې رخصتۍ دي چې په کال کې یې شمېره ۱۱۵ ورځو ته رسېږي. د دې رخصتیو په پیل او پای کې یوه یا دوه ورځې په غیر قانوني ډول مامورین او معلمین ځانته ګوښه کوي، چې پدې ډول شمیر یې د کال نیمایي ورځو ته رسیږي. په دې هره رخصتۍ باندې باید بیل مضمون ولیکل شي؛ خو درې رخصتۍ، د استقلال جشن، د پښتونستان جشن او د نجات د جشن رخصتۍ دي چې ملي او تاریخي پس منظر لري. له دې درې جشنونو یو یې چې د نجات جشن دی په تیرو درې لسیزوکې د نمانځنې نه محروم شوی دی. دلیل یې همدا دی چې د ثور د کودتا په نهمه ورځ کارملیانو د نجات ځلی چې د لاهورۍ دروازې او د حضوري چمن په جنوبي څلور لارې، د پل مستان په سیمه کې، د ثور د کودتا د نهمې شپې په تیاره کې داسې رنګ کړ چې په سهار کې پرته له یوې کندې، چې اوبه بې په ځای کې ډنډې ولاړې وې، نور هیڅ اثر بې پاتې نه و. کارملي کمونستانو دا ځکه رنګ کړ چې په ډېره باندې په لیکنو کې د نادرخان ډېر توصیف شوی و. (د ډېرلیک لیکل به د مقالې په پای کې راوړو. ) افغانانو له ډېرې مودې غوښتل، د نجات ځلی چې د هېواد د یووې ډېرې تورې دورې د پای ته رسېدو په مناسب ولاړ ؤ، بیا جوړ شي او له ښه مرغه چې دا موکه د جمعې په ورځ چې د تلې ۲۳مه د ۱۳۹۵ کال ؤ، یو شمېر د ولسي جرګې غړو، قومي مشرانو، مخورو سپین ږیرو او اکاډمیکو شخصیتونو، وروسته له ۳۸ کالو په داسې حال کې چې د کابل او ولایاتو نه په سلګونه کسان ورته راغلي ول، د ډوهلونو په وهلو سره په هماغه ځای کې یې د بیا جوړېدو ډبره کېښودل شوه. د نجات په ځلي باندې واقعاً چې د زرګونه تنو، چې د پکتیا له ځاځیو نه نیولې تر وزیرو او مسعودو پورې د سقاو د زوی نهه میاشتنۍ دوره چې د ظلم، وحشت او غلا په بنسټ ولاړه وه او د علم او رڼا په مقابل کې یو نه بښوونکی حرکت و، له منځه یووړ. د سقاو د زوی پر ضد لښکر، له ځاځیو نه پیل شو؛ ځکه چې هلته نادر خان او دوه ورونو یې چې شاولي خان او شاه محمود خان ول پناه وړې وه. وروسته له میاشتو ژوند نه د ځاځیو په علي خیلو کې، په داسې حال کې چې لوګر، ګردېز، میرزکه او شاوخوا ټولې سیمې سقاوي شوې وې، د ځاځیو مشران یې په سپینه شګه کې یوې جرګې ته سره را وبلل. په هغه جرګه کې نادرخان د ځاځیو مشرانو ته وویل، چې تاسو تجار خلک یاست او زموږ له امله نه شئ کولای چې خپل تجارتي کړه وړه له کابل او نورو سیمو سره پر مخ یوسئ. موږ درته درې وړاندیزونه لرو:

۱ـ د سقاو زوی ته چې زموږ پر سر یې ډېرې پیسې ایښي دی،مونږ ور وسپارئ او هغه زیاتې پیسې تر لاسه کړئ.
۲ـ که مو خوښه وي، موږ له ځاځیو نه وشړئ، چې موږ نور په تاسو باج نه شو.
او یا هم:
۳ـ راځئ چې په ګډه ملاوتړو او خپل وطن د سقاو له تورتم نه خلاص کړو.

د ځاځیو مشرانود ورونو نه ماسوا، په بیله غونډه کې پرېکړه وکړه چې دا به تاریخي بدنامي وي چې دا ورونه د پیسو په مقال کې سقاویانو ته وسپارو او هم پښتونوالی ته د منلو وړ نه ده چې موږ هغوی له خپلو سیمې وشړو؛ نو راځئ چې ملا وتړو او کابل بېرته ونیسو. په دې باندې دعا وشوه او درې ورځې وروسته د قومي اربکیو یو لښکر، چې مشري یې د روقیان کندل خان کوله ،له شاولي خان سره یو ځای په حرکت کې شو او په لاره یې تر کابله پورې دا قومونه چې په خوله سقاویان شوي ول، بېرته خپلې تېروتنې ته متوجه کړل. هغوی ټولو هم په خپله تېروتنه اعتراف وکړ او له همدې امله یې په لاره کېلښکر ته، شپې او ډوډۍ ورکوله او بشپړ ملاتړ یې ترې څرګند ولو. د تلې په ۲۵مه د ۱۳۹۵ کال د کابل هشت صبح ورځپاڼې په یوه مقاله کې چې د فردوس په نوم یو چا لیکلې چې عنوان یې دی: (رییس پوهنتون کابل به نژاد پرستان کف زد) او لیکي:
«در کشور ما نژادر پرستان بې سلطه طلب که به توهین نژادی و ترویج نفرت تباري مشغول اند از مسونیت کامل قضایي بر خوددار میباشند... رییس برحال پوهنتون کابل در صف اول ایستاده است و به سخنراني نژاد پرستان سلطه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

طلبي گوش میدهد که باور دارد، افغانستان سرزمین یک قوم خاص است... این رویداد نشان میدهد که وقت بحث بر تری طلبی قومی به میان اید، لبرال، بنیادگرا و چپی های دیروز، در یک صف قرار میگیرد و شعارهای نژادپرستانه سر میدهد.»
فردوس چې ممکن مستعار نوم وي، په دې مقاله کې په مکرر ډول پښتنو ته نژاد پرستان وايي. په مقاله کې هيچېرې هم نه دي ليکل شوي چې د نجات ځلې د سقاو د چور او چپاول، ښځو او هلکانوباندې د جنسي تېريو، د ښونځيو د نجونو په زوره له سقاويانو سره ودول، له ترکيې او هند نه هغه نجونې چې امير امان الله خان د زده کړو لپاره استولي وې، بېرته را غوښتنې او د ټولو ښوونځيو د دروازو تړل او سقاويانو ته د خلکو د عام او تام د ژوند اختيارات ورکول او په لسگونه دا ډول غېرې انساني او غيرې اخلاقي کړنو اجازه ورکول ول چې پښتانه را پاڅېدل او دې تورتم ته يې د پاى ټکى کېښنود.
فيض محمد کاتب چې په سقوي نه مياشتي دوران، خپل چشم ديد په تذکرالانقلاب نومي کتاب کې د سقويانو غلاوې، تجاوزونه، د علم او معرفت نه په فرسخونو لرى والى، او ټولو هغو ناخوالو چې په افغانانو باندې يې تحميل کړل، په تفصيل سره ليکلي دي. خو د فردوس په مقاله کې د نجات د ځلې بل لورى چې همدا سقويان او يا د کاتب د خپلو سترگو ليدلي کتلي دي، يوه کرښه هم نشته.
پښتنو هيڅکله هم، بر خلاف د هغه تعصب او تنگنظرئ نه چې دا ښاغلى فردوس يې له پښتنو سره لري، له نورو قومونو سره د معاصر تاريخ په دوران کې څوک مثال نشى راوړى. که هغوى د افغانستان شمالي ته تللي ددې لپاره چې د تزاري روسيې د پنجدې، ذولفقار او د پامير د ځينونورو برخو د نيولو په مقابل کې ځانونه سپر درولي ول چې داسي تيرې تکرار نشي او ځکه هم هلته مېشت شويدي، خود هيڅا باغ، ځمکه او يا کور يې په زور نه دى نيولى.
پښتنو تل نورو قومونو ته د کشرو ورونو خطاب کړى او د هغوى پرځاى يې د هر تېري کوونکي په مقابل کې ځانونه قرباني کړي دي. که دا ښاغلى فردوس واقعاً په ديموکراسى او وروړلي عقيده ولري؛ نو دى څنگه له هشت صبح سره مزدوري کوى چې د تعصب او نژاد پرستى د رويې له مخې د پښتوژبې مضمونونه په دې ورځپاڼه کې نه نشرېږي. دا ورځپاڼه، چې ويل کيږي له بهره تمويلېږي د درې د اصلاحاتو پر ځاى چې ورته شرم ښکاري، له ايراني اصلاحاتو نه ډکه ده. واى، دا زموږ د اطلاعاتو او کلتور په وزارت چې نه يې دي کړي، زموږ د دوو رسمي ژبو ترمنالوژي چې په اساسي قانون کې يې د مراعت کولو خبره شوې په دې او داسې نورو ورځپاڼو باندې دى تحميل کړي، او يا په ښکاره ددوهمى رسمي ژبې، چې د مملکت د اکثريت ژبه ده،د دومره بې پروايي او بې تفاوتي مخه ونيسي. د نژاد په برخه کې بايد ووايم چې د دې مقالې له منځپانگې داسې ښکاري چې بايد سقاوي دورې دوام کړى واى او افغانستان يې څوپېرې بېرته بېولي واى. د فردوس په نظر هغه به ښه و، نه دا چې افغانستان ته يو ځل بيا د امان الله خان د دورې ارامې او د نسبي پرمختگ لارې خلاص شوې چې د نادر خان، ظاهر شاه او داود خان ۴۸ کلنه دورو کې موږ افغانانو په ارامى او هوساينې کې ژوند وکړ. کارمليانو پر ځاى د دې چې د نجات ځلى يې د ړنگېدو له هېرې د شېې په تيارو کې ړنگ کړ، بايد (د دا لاندې ليکنې پر ځاى يې) د هغو پښتنو قومونو او مشرانو نومونه ليکلي واى چې افغانستان يې د سقاوي د قرون اوستايي له تورتم نه وژغورل:

**«به یادگار فداکاریها و مجاهدات وطنخواهانه یگانه قاعد معظم و نابغه بزرگ اعلیحضرت محمد نادرشاه افغان که به استماع فریاد وطن از گوشه یي مملکت فرانس خود را برای نجات و استخلاص وطن در سمت جنوبي رسانده و بعد از قیام به عزم استیصال سارقان در طی اقدامات هشت ماهه خود بادلیران جنوبی و بهجوم وزیرستان ۱۶ میزان ۱۳۰۸ هجری شمسی مرکز سلطنت سنیه افغانیه را فتح و تسخیر و بچه سقاو را به اراکین خاینش از صفحه افغانستان معدوم نمود، این خاطره استوار و آبده ثابته بنیاد گذاشته شود، تا در بادی النظار اهل بصیرت، شجاعت و علوهمت این نجات دهنده وطن ثابت بوده، ملت افغان ین خدمت عالیشان را تقدیر و اینگونه ایثار و فدا کاری را در تامین سعادت حیات اجتماعی خویش تاسیس و تعقیب کند.»**

په دې بيا ځلې جوړشوي ځلي کې به، د پورته ډېر ليکنې علاوه، د هغو قومي مشرانو او قومونو نومونه هم وليکل شي چې د سقوى د توري دورې په مقابل کې ودريدل او زمونږ افغانان يې له هغې توري بلا نه خلاص کړل او ځانونو ته يې ابدي افتخار وگټلو.

پاى

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ